# وزارت امورمهاجرین وعودت کنندگان

# د مهاجرینو او راستنېدونکو چارو وزارت

## د اطلاعاتو او عامه اړیکو ریاست

# خبرپاڼه خبر نامه

**۱ میزان _سال 1402**





# اخبار مهم

افغانستان - منطقه - جهان

## فهرست مطالب

**عنوان** **صفحه**


د مهاجرینو چارو وزارت او یوې مؤسسې ترمنځ د همکاریو هوکړه لیک لاسلیک شو -------------------- 1
برای 96 خانواده در ولایت بلخ وسایل پشم ریسی توزیع شد -------------------- 1
ننګرهار کې له ایران او پاکستان څخه لسګونه دیپورت شوو سره نغدي مرستې وشوې -------------------- 2
بیش ا ز 400 خانواده مهاجر افغان ازپاکستان به وطن برگشت نمود -------------------- 3
بدخشان کې له ۳۰۰ زیاتو کورنیو سره مرستې وشوې -------------------- 4
فرانسه: د اروپایي ټولنې د عدالت محکمې د کډوالو په شا تمبونې امکان محدود کړ -------------------- 5
آلمان: د کډوالو د منلو ظریفت مو وروستي حد ته رسیدلی -------------------- 7
لامپدوزا: فرانتکس برای کمک به ایتالیا پروازهای تجسسی در مدیترانه را افزایش می‌دهد -------------------- 9
پولیس چک ۳۳ مهاجر را از یک موتر کوچک باربری پیدا کرد -------------------- 10

# متن کامل اخبار

## د مهاجرینو چارو وزارت او یوې مؤسسې ترمنځ د همکاریو هوکړه لیک لاسلیک شو

د وزارت ویب سایت



**د مهاجرینو چارو وزارت او د افغانستان له پاره د احیای مجدد انصاري مؤسسې ترمنځ د همکاریو هوکړه لیک لاسلیک شو. د لاسلیک شوي هوکړه لیک مالي لګښت ۲میلونه او ۷۷۵ امریکایي ډالردی، چې په له مخې به يې یاده مؤسسه په هرات، غور، فراه او بادغیس ولایتونوکې د ملګرو ملتو د کډوالو ادارې په مالي مرسته ۳۰ زره کورنیو ته،چې پکې بېځایه شوي او نوي ځای پرځای شوې کورنۍ شاملې دي د نغدي، ژمنیو او دغیر خوراکي توکو د وېش په برخه کې مرستې تر سره کړي. یاد هوکړه لیک د مهاجرینو چارو وزارت د مسلکي مرستیال مولوي عبدالرحمن راشد او د یادې مؤسسې د رییس ترمنځ لاسلیک شو.**

## برای 96 خانواده در ولایت بلخ  وسایل پشم ریسی توزیع شد

ویب سایت وزارت



**ریاست مهاجرین ولایت بلخ از توزیع وسایل پشم ریسی برای 96 خانواده بیجاشده درآن ولایت به تاریخ 29 سنبله خبرداد.**
**خانواده های یاد شده توسط هیات اداره امور مهاجرین آنولایت درشهرک های مهاجرین همدرد و البرز شناسایی شده بودند و برای هر خانواده، ماشین پشم ریسی، سولر، شانه و 50 کیلو پنبه به همکاری موسسه پکو با حضور نماینده ریاست مهاجرین توزیع گردید.**

## ننګرهار کې له ایران او پاکستان څخه لسګونه دیپورټ شوو سره نغدي مرستې وشوې

د وزارت ویب سایت




ننګرهار کې له ایران او پاکستان څخه ۵۴ ډیپورټ شوو سره د ننګرهار ولایت د مهاجرینو چارو ریاست له لوري د وړي په ۲۹مه نغدي مرستې وشوې.
یاد کسان د ننګرهار ولایت د مهاجرینو چارو ریاست له لوري د مرستو له پاره مستحق په نښه شوي وو، چې هر تن ته ۱۲ زره افغانۍ او یوه یوه روغتیایي کڅوړه د مهاجرت نړۍوال سازمان له لوري ورکړل شوه.
د یوه بل خبر له مخې د کامې او بهسودو ولسوالیو کې ۴۰ تنو نورو ته د ژوغورنې نړۍوالې کمېټې له لوري په دوو کټګوریو کې ۱۴ زره او ۱۰ زره افغانۍ وویشل شوې.

## بیش ا ز 400 خانواده مهاجر افغان ازپاکستان به وطن برگشت نمود

ویب سایت وزارت



**461 خانواده مهاجر افغان مقیم پاکستان، از طریق مرز تورخم ولایت ننگرهار از تاریخ 27 الی 29 سنبله به وطن برگشت نموده اند.**

**به اساس معلومات آمریت سرحدی تورخم ولایت ننگرهار خانواده برگشت کننده، جهت مساعدت به دفتر سازمان بین المللی مهاجرت معرفی و مساعدت نقدی و لوازم خانه به ایشان کمک شد.**

## بدخشان کي له ۳۰۰ زیاتو کورنیو سره مرستي وشوې

د وزارت ویب سایت




**بدخشان ولایت کې ۳۶۸ کورنیوسره د دغه ولایت د مهاجرینو چارو ریاست له لارې د ورېي په ۲۹مه نغدي مرستې وشوې.**
**یادې کورنی چې د دغه ولایت د مهاجرینو چارو ریاست له لوري په داریم ولسوالۍ کې د مرستو له پاره مستحقې په نښه شوې وې د افغانستان له پاره د هالنډ کمېټې له لوري هرې کورنۍ ته د غذايي مصونیت، د بېوزلۍ د کمولواو د ژوند د کچې د لوړولو په موخه ۱۱ زره او ۳۳۰ افغانۍ ووېشل شوې.**
**د ویلو ده، چې یادو کورنیو سره مخکې هم په دوه قسطونو کې ورته مرستې ترسره شوې دي .**

## فرانسه: د اروپايي ټولنې د عدالت محکمې د کډوالو په شا تمبوني امکان محدود کړ

مهاجرنیوز




**د اروپايي ټولنې د عدالت محکمې پرون پنجشنبه د سپټمبر په ۲۱مه د يو فرمان په صادرولو وويل چې فرانسه نه شي کولی بې اسناده کډوال له قيد او شرط پرته له خپلې خاورې څخه د ګاونډيو هېوادونو پر لور اخراج کړي.**

**د اروپايي ټولنې د عدالت محکمې د وروستۍ پرېکړې پر اساس د «ستنېدو» په نوم لايحې له مخې فرانسوي چارواکي نه شي کولی چې بې اسناده کډوال له قيد او شرط پرته له خپلې خاورې څخه د ګاونډيو هېوادونو پر لور وشړي.**

**له دې وړاندې د فرانسې د دولت شورا د ځينو مرستندويه سازمانونو تر شکايت وروسته د اروپايي ټولنې د عدالت له محکمې څخه د هدايت غوښتونکې شوې وه. په دغه غوښتنليک کې راغلي وو: ايا د فرانسې په څېر هېوادونه چې پر خپلو پولو يې امنيتي تدابير نيولي دي کولی شي چې د «ستنېدو» لايحې خلاف کډوال په منظمه توګه د اسنادو د نه لرلو له کبله په شا وتمبوي؟**

**بيا ولولئ :له ايټاليا سره پر پوله د فرانسوي چارواکو له خوا د کډوالو په شا تمبونه**

**د «ستنېدو» لايحې له مخې بهرنيانو ته وخت ورکول کېږي چې د اروپايي ټولنې له غړو هېوادونو څخه د وتلو په هکله پخپله خوښه تصميم ونيسي.**

**محکمې د يادې لايحې پر اساس د کډوالو په شا تمبول ناسمې بللې دي.**

**ستره «بريا«**

**په ورته مهال سرحدي سیمو کې له بهرنیانو سره د مرستې ملي سازمان یا انافې مشرې لور پالون دا پرېکړه یوه مهمه «بریا» بللې ده. نوموړې ویلي چې د محکمې د پرېکړې له مخې په انتظار زونونو کې د خلکو بندي کول غیرقانوني دي او بهرنیانو ته باید وخت ورکړل شي چې د ورتګ په اړه تصمیم ونیسي.**

**نږدې ۲۰ بشري سازمانونو د پنجشنبې په ورځ په یوه خبرپاڼه کې ولیکل چې «پر پوله تر ۸ کلونو غیرقانوني کنټرول او د خلکو د بندي کولو وروسته د عدالې محکمې دا کار د قانون خلاف وباله.«**

**په خبرپاڼه کې زیاته شوې ده چې فرانسه باید اروپایي قوانینو ته درناوی او ژر اقدامات وکړي.**

**تر دې مهاله د کورنیو چارو وزارت په دې اړه څه نه دي ویلي.**

**بیا ولولئ :<u>آلپ - مریتیم: له ایټالیا څخه فرانسې ته د راتلونکو کم عمره کډوالو شمېر دوه چنده زیات شوی</u>**

**دا په داسې حال کې ده چې د فرانسې د کورنیو چارو وزیر ژرالد دارمنن د سپتمبر په ۱۹مه اعلان وکړ چې لمپدوزا ټاپو ته د رسېدلو کډوالو لوړ شمېر ته په کتو سره له ایټالیا سره پولې ته <u>۲۰۰ نوې سرتېرې استوي</u> .د نوموړي په وینا، له دې سره د فرانسې او ایټالیا په سرحدي سیمه کې د امنیتي ځواکونو شمېر ۷۰۰ ته لوړېږي. دارمنن همداراز ویلي وو چې ټاکل شوې چې دغه سرتېري د پولې په اوږدو کې دنده ترسره کړي او له ایټالیا څخه فرانسې ته د کډوالو د راتګ مخه ونیسي.**

## آلمان: د کډوالو د منلو ظرفیت مو وروستي حد ته رسېدلی

مهاجرنیوز



د آلمان ولسمشر فرانک والتر شټاین مایر ایټالیا ته له خپل سفر وړاندې د پولو د کنټرول او په اروپايي اتحادیه کې د کډوالو د «عادلانه ویش» غوښتنه کړې ده. د آلمان ولسمشر وویلي چې د ډیرو کډوالو په منلو کې له ستونزو سره مخ دي.

شټاین مایر له یوې ایټالوي ورځپاڼې »کوریره دلا سرا (Corriere della Sera) «سره په مرکه کې دې ته په اشاره چې آلمان د ۲۰۲۳ کال په لومړۍ نیمایي کې د اروپايي ټولنې په کچه د پناه غوښتنې ډیرې قضیې درلودې وویل: «آلمان د ایټالیا په څیر د خپل ظریفت تر بریده رسیدلی دی«.

د آلمان ولسمشر زیاته کړه چې آلمان او ایټالیا «درانه پیټي زغمي.» نوموړي په اروپا کې د کډوالو په «عادلانه ویش» ټینګار کړی.

شټاین مایر په بهرنیو سرحدونو کې د «قوي کنټرول» غوښتنه کوي

شټاین مایر د چهار شنبې په ورځ ایټالیا ته خپل درې ورځینی سفر پیل کړ.

<u>په اروپا کې د مهاجرت بحران ـ سوالونه او جوابونه</u>

نوموړی به د ایټالیا له ولسمشر سرجو ماتارلا سره وګوري او د ایټالیا په سویل کې به د سیسیل له جزیرې دیدن وکړي.

په دې وروستیو کې د ایټالیا چارواکو د لامیدوزا له کوچنۍ جزیرې سیسیل ته د یو شمیر مهاجرو په انتقالولو پیل کړی دی یعني له هغه جزیره څخه چې ډیر کډوالو ورغلي دي.

شټاین مایر اروپا کې د خلکو محدودولو په اړه وویل: «په بهرنیو پولو کې مو «تر ټولو قوي څار» ته اړتیا ده«.

ایټالیا او آلمان د کډوالو پر سر اختلاف لري

د آلمان ولسمشر ټینګار وکړ چې ایټالیا باید د کډوالو په مسله کې یوازې پرینښودل شي او له دغه هیواده باید د «ډیرو بشرپالو مسؤولیتونو» په منلو مننه وشي.

<u>آلمان ته د راتګ پروګرام؛ تر اوسه هېڅ افغان آلمان ته نه دی راغلی</u>

د ایټالیا ښی اړخي حکومت د هغو قوانیونو د تصویب له کبله چې د کډوالو حقونه محدودوي او په سمندر کې د کډوالو د ژغورنې د عملیاتو مخه نیسي، د نیوکو سره مخامخ شوی دی.

شټاین مایر د ایټالیا او المان له حکومتونو غوښتي د اوسنیو اختلافونو په اړه دې یوې هوکړې ته ورسیږي.

تیره اونۍ آلمان له ایټالیا د کډوالو داوطلبانه منل تر نامعلومو مودې وځنډول.

آلمان د کورنیو چارو وزارت ویلي چې ایټالیا پخپله د هغو پناه غوښتونکو بیرته اخیستلو څخه ډډه کوي چې د دوبلین د قانون سره سم د دوی د پناه غوښتنې د غوښتنلیکونو د پروسې د پلي کولو مسولیت لري.

په آلمان کې د «کډوالو د وروستي حد» په اړه یو ځل بیا بحثونه تاوده شوي

**یو شمیر آلماني سیاستوالو په دې وروستیو کې وړاندیز کړی چې آلمان کې باید په کلني ډول د کډوالو د منلو لپاره یو حد وټاکل شي.**

**<u>جرمنی تر بل امر پورې له ایټالیا څخه د کډوالو منل وځنډول</u>**

**د محافظه کاره اپوزیسیون مشر فریدریش مارټس وویل چې دا شمیر باید په کال کې ۲۰ زره تنه وټاکل شي. خو د سوسیال دیموکرات گوند د کورنیو چارو وزیرې نانسي فایزر دغه ډول یو حد رد کړی دی.**

**په ۲۰۲۳ کال کې، آلمان شاوخوا ۱۷۵ زره د پناه غوښتنې غوښتنلیکونه ترلاسه کړي دي او همدا راز د اوکراین د جگړې له امله تر یو میلیون ډیر بې خایه شوي آلمان ته راغلی چې دغه کډوال په پناه غوښتونکو کې نه شمیرل کیږي.**

## لامپدوزا: فرانتکس برای کمک به ایتالیا پروازهای تجسسی در مدیترانه را افزایش می‌دهد

مهاجرنیوز




**چند روز بعد از اعلام طرح اضطراری و ۱۰ فقره‌ای کمیسیون اروپا برای حل بحران مهاجران در لامپدوزا، فرانتکس، یا سازمان حفاظت از مرزهای خارجی اتحادیه اروپا اعلام کرد که حمایت خود از ایتالیا را افزایش خواهد داد.**

**فرانتکس روز چهارشنبه در یک <u>بیانیه مطبوعاتی</u> گفت که تصمیم گرفته تعداد «ساعات پرواز هواپیماهای خود» را بر فراز منطقه مرکزی مدیترانه دو برابر کند.**

**در همین زمینه :<u>طرح ده فقره‌ای رئیس کمیسیون اروپا برای مقابله با بحران مهاجرت در لامپدوزا</u>**

**بنابر بیانیه، آژانس «تصاویر ماهواره‌ای بیشتری از مناطق اصلی حرکت مهاجران از تونس» را به مقام‌های ایتالیایی ارائه کرده است تا آن‌ها را در نظارت بر دریا و انجام عملیات نجات احتمالی کمک کند.**

بنابر بیانیه، فرانتکس در حال حاضر حدود ۴۰ کارمند و افسر در لامپدوزا دارد که در شناسایی افراد، روند اداری و گشت زنی در محل با ماموران ایتالیایی همکاری می‌کنند. آژانس قصد دارد افراد بیشتری را به لامپدوزا بفرستد تا در ثبت مهاجران به ایتالیا کمک کنند؛ ساعات گزمه کشتی‌ها در منطقه را افزایش دهند و از تلاش‌ها در مبارزه علیه گروه‌های جنایتکار قاچاق مهاجران، حمایت کنند.

در کنار آن، تیم‌های سیار آژانس که حدود ۳۰ کارشناس در آن‌ها شرکت دارند، در بنادر رجیو کالابرا و مسینا در روند ثبت نام و شناسایی مهاجران انتقال داده شده از لامپدوزا کمک می‌کنند.

در همین زمینه :رئیس فرانتکس پس از واژگونی قایق در یونان: فشار مهاجرت طی سال های آینده کاهش نخواهد یافت

فرانتکس در حال حاضر در چارچوب عملیات ترمیس (Thermis) در ایتالیا حضور دارد و شمار کارمندان آن در این کشور به ۲۸۳ تن می‌رسد. تجهیزات آژانس در ایتالیا پنج کشتی بزرگ، ۷ هواپیما، ۱۸ کشتی متحرک و ۴ ماشین را در بر می‌گیرد .

مهاجران مدیترانه «یک چالش جمعی برای اروپا» است

هانس لایتنس، مدیر اجرایی فرانتکس گفت که آژانس« فعالانه»با مقامات ایتالیایی همکاری می‌کنید و آماده است تا حمایت خود را تقویت کند. او در ادامه گفت» :این فقط یک چالش برای ایتالیا نیست، بلکه یک چالش جمعی برای اروپا است. ما با هم مسئولیت مشترک حفاظت از مرزهای خارجی اتحادیه اروپا را به عهده داریم«.

تصمیم تقویت کمک‌های فرانتکس به ایتالیا در حالی اعلام شده که روز یکشنبه گذشته، اورسولا وان در لاین، رئیس کمیسیون اروپا هنگام دیدار از مرکز ثبت نام مهاجران در لامپدوزا یک طرح ده فقره‌ای را برای کمک به حل بحران لامپدوزا اعلام کرد. در هفته گذشته حدود ۱۰ هزار مهاجر وارد لامپدوزا شدند.

در این طرح، تقویت حفاظت از مرزها از طریق دریا و هوا و مبارزه علیه شبکه‌های قاچاقبران به کمک فرانتکس، بخشی از اقداماتی است که باید به اجرا درآیند.

فرانتکس همین اکنون نقش عمده‌ای را در جستجوها برای ردیابی کشتی‌های مهاجران در دریای مدیترانه به عهده دارد اما آژانس در چندین مورد از نقض حقوق مهاجران توسط یونان و یا محفظان ساحلی لیبیا، مورد انتقاد قرار گرفته است .

در همین مورد :ناظر اتحادیه اروپا در مورد نقش فرانتکس در فاجعه مرگبار غرق شدن کشتی در یونان تحقیق می‌کند

## پولیس چک ۳۳ مهاجر را از یک موتر کوچک باربری پیدا کرد

مهاجرنیوز



© Bernd Riegert/DW

**پولیس جمهوری چک در حین بازرسی وسایط نقلیه در شهر هدنین ۳۳ مهاجر به شمول ده کودک را از یک موتر پیدا کرد. راننده موتر از سوی پولیس بازداشت شده است.**

**پولیس چک شب جمعه یک موتر کوچک باربری را متوقف کرد که یک فرد مظنون به قاچاق انسان ۳۳ مهاجر سوریایی را در فضای تنگ بخش بار آن جابجا کرده بود .**

**چنانچه مقامات روز جمعه اعلام کرده اند، ۱۰ تن از سرنشینان این موتر کودک بوده اند. فرد مظنون به قاچاق انسان در حین بازرسی پولیس در نزدیکی شهر هدنین جمهوری چک بازداشت شده است.**

**به گفته پولیس، او باید به اتهام عمل جرمی کمک به عبور غیرقانونی از سلواکیا به جمهوری چک در محکمه پاسخ بگوید. گفته شده که این مهاجران در چوکات یک توافقنامه پس به کشور سلواکیا تحویل داده خواهند شد.**

**این دومین مورد از چنین رویدادها در مدت زمان کوتاه است. دو هفته پیش نیز پولیس چک پس از تعقیب یک موتر باربری در شهر هدنین و توقف آن حدود ۲۷ مهاجر سوریایی را از موتر پایین کرد. راننده موتر و قاچاقبر احتمالی بازداشت شدند.**

**هدنین حدود ۲۴ هزار نفر جمعیت دارد و در نزدیکی مرز سلواکیا در حدود ۲۴۰ کیلومتری جنوب شرقی پراک موقعیت دارد.**